# د کار بازار، ټولنیزه نابرابري او د کابل خیاطان

۱۳ کاله باکیفیته څېړنه
د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد
AREU

مرغومی ۱۳۹۳

ریچارد مالت او اډم پپین

## کلیدي پیغامونه

- د کارمارکیټ یوطبیعي اوغیر شخصي چاپېریال نه دی. دغه دواړه مسلې د ټولنیزې نابرابری د موجودیت منعکسوونکې او پیاوړي کوونکې دي.
- د کار په بازار کې ټولنیزې اړیکې او شبکې تر ټولو مهم رول لري. شخصي اړیکې د پانګې سرچینو او فرصتونو ته د لاسرسي بنسټ جوړوي.
- پالیسي جوړونکي باید په دې فکرسره خپلې چارې پیل کړي، چې د اقتصاد بازار حکومتولۍ هم هغه تنقیدي تحلیل ته اړتیا لري، کومه چې د سیاسي حکومتولۍ په برخه کې صدق کوي. په دې اړه د پرمختیا په برخه کې تدوین شوې پالیسۍ دا وړتیا نه لري چې د کاري فرصتونو د زیرمې په کچه کې په سمه توګه زیاتوالی راولي.



د ځوانو نارینه وو لپاره د خیاطۍ زده کړې (غیررسمي) ته لاسرسی تر ډېره بریده په ټولنیزو اړیکو پورې تړلی دی.
ریچارد مالت / SLRC

## د څېړنې موضوع څه ده؟

جګړه ستونزې پیدا کوي، بیکاري راولي اود ښو کاري فرصتونو د پیدا کېدو مخه نیسي. ښه کاري فرصتونه نه یوازې دا چې اقتصاد پیاوړی کوي، بلکې د ټولنې د خوندیتوب او د قانون په پلې کېدو کې قانونمند دولتونه هم رامینځته کولای شي. له همدې امله په دې برخه کې زیاترو اندونو، کاري فرصتونو ته د لاسرسۍ لپاره، د ادارو پېژندنې او د وړتیا رول له جدي تحلیلونو سره یوځای پر هغو تخنیکي کړنلارو بنا شوی، چې د عرضې په نسبت د تقاضا انډول کره کوي.

دا څېړنه په دې پوهاوي سره ترسره شوې، چې په ناامنو او ډینامیکو شرایطو کې د کار بازار څرنګه کار کوي. دغه چاره، د هغو ځوانو ښځینه او نارینه کارګرو، د تحلیلونو او تجربو پر مټ ترسره شوې، چې د افغانستان په پایتخت کابل ښار کې د خیاطي په ځانګه کې پر کار بوخت دي. د افغانستان په ښاري سیمو کې، د نورو ځانګو په پرتله په خیاطي کې، ډېر ښځینه کارکوونکي ګومارل شوې او همدارنګه خیاطي هغه څلورم سکټور دی، چې زیات ښاري نارینه پکې کار کوي. پر دې بنسټ، دغه ځانګه، هغو څېړونکو ته یو ایډیال فرصت برابروي، چې د کار د بازار د جنسیتي اړخ په اړه تحلیل کوي. دغه څېړنه تر ډېره پر لاندې ټکو ولاړه ده:

- ځوانې ښځې او نارینه په لومړي پړاو کې څرنګه کاري مهارتونه ترلاسه کوي او په ښارونو کې کاري بازار ته لار مومي؛
- د کار په بازار کې د دوی د برخه اخیستنې کوم ماهیت، شرایط او محدودیتونه سره ورته دي؛
- د ښار په کاري بازار کې د دوی کار، څومره د دوی په ګټه او زیان دی (د دوی د سلامتیا اود بېلابېلو برخو د اغېزمنتیا له پلوه).

د اوګاندا په شمال کې د یوې بنسټیزې اړوندې پروژې ( Mallett and Atim ۲۰۱۴ ) او هغو پراخو پرتلیزو کاري څېړنو ترڅنګ، چې د SLRC له خوا ترسره شوې، موږ په دې پوهوي چې د ورته او لړزاندو دولتونو لپاره د ښې دندې اجنډا ، څه ده.

## موږ څه شی ترسره کړل؟

دلته وړاندې شوې موندنې د هغو معلوماتو او اسنادو پر بنسټ دی، چې په کابل کې له هېواده بهر پرمختیایي انستیتوت (ODI) او د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد (AREU) د څېړونکو له خوا چمتو شوي دي. د ۲۰۱۴ ز. کال په جنوري کې، د کیفي څېړنیز مېتود (عمدتا نیمه جوړښت لرونکې مرکې او ځینې متمرکز کاري ګروپونه) په کارولو سره مو هڅه وکړه، چې د خیاطۍ د سکټور، د کار پروسې، تجربې، مفاهیمو او اغېزمنتیاوو په تړاو معلومات راټول شي. موږ د ګومارنې او استخدام پر بهیر د ښه پوهاوي په موخه، د ګډونوالو بېلابېل ترکیب رامنځته کړ، چې عمدتا ځوانې نجونې او نارینه کار زده کړې. په دې ترکیب کې ځوان مغازه لرونکي، هټیوال، د انجوګانو (NGO) په پروګرامونو کې برخه اخیستونکي او همدارنګه زاړه خیاطان او د کار ښوونکي راغلي دي. موږ د اصلي مرکو پر موادو سربېره، د زردوزۍ په نوم د سیمه ایزې انجو له خوا ، چې د ښځینه خیاطانو په برخه کې کار کوي او له هغو برابر شوي کیفي معلوماتو څخه هم ګټه واخیستله، چې لا چاپ شوی نه وو . په پایله کې، د خیاطۍ د کار په بازار کې د ځوانانو د برخه اخیستو د ځانګړې څرنګوالي او ټولیز ماهیت د ښه پوهاوي په موخه، له یو ځوان نجار او یوې ځوانې سینګاروونکې سره هم مرکې ترسره شوې؛ په اضافي سکټورونو کې، دغه دوه ځکه غوره شول، چې دواړه د جنسیت له پلوه انحصاري او ځانګړي دي. د دې کار یو بل هدف دا و تر څو په دې وپوهېږو چې ایا د خیاطۍ سکټور هم د جنسیتي اړخ له پلوه ځانګړی سکټور دی او که نه.



دکنډلو په بازار کې یو زیات شمېر ځوانان کار کوي. ډېرو دا ډول ځوانانو د کورنۍ اقتصادي ستونزو له امله، دا مسلک له ماشومتوب څخه ټاکلی و او له هماغه وړوکوالي راهیسې کار پکې کوي ریچارد مالت/SLRC

که تاسې هغه دوکان ته ولاړ شئ، نو کېدای شي، موږ هغه له هرچا څخه ښې وساتو، ان زما کورنۍ باید په اړه یې معلومات و نه لري.. که زما کورنۍ په اړه یې پوه شي، نو له ماسره خپلې اړیکې پرې کوي..

(د افغانستان معلومات ورکوونکی)

## زموږ موندنې څه دي؟

د دې څېړنې په پایله کې، موږ دریو ټکو ته لاسرسی موندلی، چې په دقیقه توګه زموږ د دې څېړنې لاسته راوړنې دي.

## د کار د بازار تړاو د یو ټولنیز اقتصاد په توګه

زموږ د دې څېړنې له شواهدو څخه ښکاري چې د خیاطۍ د کار لپاره د کابل د کار بازار، ښایي د یوه ټولنیز اقتصاد له پاره تر نورو زیات مطرح وي (البته دا یو ژور خو نامساعد حالت دی). دې کار ته لاسرسی اسانه ده، همدارنګه برخه اخیستنه پکې د تفاهم له لارې ترسره کېږي او ټولې معیشتي چارې یې پر شبکو او اړیکو ولاړې دي.

د بېلګې په توګه، د یوې ځوانې ښځې لپاره، چې غواړي په دغه سکتور کې کار وکړي، دا ډېره مهمه ده، چې مخکې له مخکې د خپلې کورنۍ د یو کلیدي نارینه (پلار، تره یا خاوند) هوکړه او ملاتړ ترلاسه کړي. کله چې یې دا ډاډ وموند، نودا ځوانه میرمن په ډاډه زړه خپل کار ته دوام ورکولی شي او یوه بریالۍ خیاطه ترې جوړېدای شي. دا ډول ځوانې مېرمنې کله دومره بریالۍ شي چې ان خپل اولادونه ښوونځي او پوهنتون ته لېږلای شي. دوی دا توان لري چې له اقتصادي پلوه له خپل خاوند سره مرسته وکړي او ان په بهر کې د کورنۍ لپاره د رخصتۍ او تفریح چانس برابر کړي.

خیاطۍ ته د ځوانو نارینه وو لاسرسی؛ د کار د زده کړې دوره؛ (چې غیررسمي خو پراخه دوره ده) تر ډېره بریده پر ټولنیزو تړاوونو او د خیاطۍ د شاګرد د کورنۍ او ښوونکی ترمنځ په اړیکو پورې تړلې ده. له زیاتره هغو نارینه وو سره چې موږ خبرې کړې، دوی د خیاطي مهارت په پاکستان کې د کډوالۍ پر مهال زده کړی دی. همدارنګه په سوداګرۍ او کاروبار کې له نورو کسانو سره پراخې اړیکې او ارتباطات هم، د یوه مهارت د زده کېدو او رامنځته کېدو لپاره مهم ګڼل شوي دي. سربېره پر دې، کریډت او بسپنې ته لاسرسی - چې په افغانستان (او هره بله سیمه) کې د ډېرو اقتصادي فعالیتونو د ترسره کېدو بنسټ جوړوي - هغه چاره ده، چې د غیر رسمي لکه په تدریجي توګه د وخت په تېرېدو سره د شخصي اړیکو د جوړولو له لارې ډاډمنه کېږي.

دا د کار د بازار ټولنیز اړخ دی. موږ پوهېږو پر هغه وړتیا او تجربه ترسره کېږي چې ډېره مشخصه وي. زموږ موندنې د نجلا کبیر (۲۰۱۲: ۵۰) د کار انعکاس دی؛ هغه څرګنده کړه، چې د کار بازار، د یو درسي کتاب په کرښو کې د کار د پېر او پلور لپاره یوه غیر شخصي ساحه نه ده، بلکې دغه چاره د قشر، ژبې، قوم او جنسیت له پلوه د پیاوړو اړیکو له اړخه ډلبندي (طبقه بندي) شوې ده. دغه ډلبندي په لاندې برخو کې توضیح کېږي.

## د کار په بازار کې ګډون، بېلابېلو خلکو ته بېلابېل ډولونه لري

د ګنډلو (خیاطي) په سکتور کې برخه اخیستنه، د ځوانو نارینه وو په پرتله، ځوانو ښځینه ګډونکو ته په بشپړه توګه یوه متفاوته موضوع ده. د لومړۍ ډلې (نارینه وو) لپاره د ګنډلو مهارت او وړتیا یوه خوندي اقتصادي شبکه ده او لکه څنګه چې روښانه ده، په یوه اوږدمهاله دوره کې ترلاسه کېږي. په واقعیت کې، دغه سکتور پر دې ټینګار کوي، هغه نارینه، چې د ګنډلو مهارت یې ترلاسه کړی د خیاطۍ پر مهال او له هغه څخه بهر خپل فعالیت تر ډېره په اسانۍ سره ترسره کولای شي.

په همدې حال، په اقتصادي فعالیتونو کې د برخې اخیستلو په تړاو د موجودو سازماني محدودیتونو په وړاندې، د سختو مبارزو په پایله کې، د ښځو لپاره ګډون ډېر زیات دی. په ځینو مواردو کې، که د کار په بازار کې د ښځو د شتوالي ډېره څرګندېدا، زیاتې لاسته راوړنې ونه لري، لېترلږه د ټولنیزو دودونو (پراخه نرواکۍ) په وړاندې د مقاومت یو کره سمبول ګڼل کېږي. همدارنګه دلته د فعالیت دقیق انډول ترسترګو کېږي ترڅو د دې مسلې مدیریت وکړي چې د ټولنیزو نورمونو له مخې دغه چاره ګناه نه ګڼل کېږي. لکه څنګه، چې یو چا په مرکه کې څرګنده کړه "یوازې تاسې دغه دودونه مات کړئ او له کوره ووځئ، دا مهمه نه ده، چې (اقتصادي) پایلې یې څه دي". په بله وینا، دغه ټولنیز دودونه، کولی شي د تولید ابزار وګڼي. د ټولنیزو دودونو دغه ارتجاعي حالت، کېدای شي، د هغه څه یوه برخه وي، چې د ساختاري او اقتصادي فکتورونو په برخه کې بیان شوي دي. په افغانستان کې پر ښځو د نارینه وو برلاسی او کنټرول، د نارینتوب (مردسالاري) د یوې ځانګړې بڼې د رامنځته کېدو او پیاوړتیا لپاره مهم لامل دی.

پورتني ټکي ته په پام سره، دلته یو شمېر نورلاملونه موجود دي، چې د فردي وکالت د مسایلو تر برید لوړ دی. په دې ټولنه کې که یو نارینه خپله لور، خور یا میرمن کنټرول نه کړي او په اعمالو یې مسلط نه وي، نو په ټولنه کې د هغه موقف تر پوښتنې لاندې راځي او خلک په ښه سترګه نه ورته ګوري. (وګورئ پیټ ریورز، ۱۹۷۷ ز. د ویاړ پیچلی شرم)، دا په خپله کولای شي چې په ټولنه کې د ده د ټولنیزې اړیکې وړتیا او ارزښت هم کمزوری کړي. دې ته په پام سره، چې په افغانستان کې د اقتصادي ژوندانه په برخه کې اړیکې ډېرې مهمې دي، دغه چاره، جدي ستونزه ګڼل کېږي، چې د اقتصادي قوت او استعدادونو له لاسه ورکولو سره ملګرې دی او په پایله کې په ټولیزه توګه، کورنۍ اغېزمنوي. دا به ډېر ژر مشخصه شي، چې د ټولنیزو دودونو نفوذ ولې او څنګه د کار د بازار د اقتصادي ډګر په بنسټ کې په پراخه کچه محسوس دی.

## د کار بازارونه د ټولنیزو ناانډولیو شتوالی منعکسوي او تر ډېره یې د پیاوړتیا لامل ګرځي

د کابل د خیاطۍ د بازار ماهیت هم د افغانستان د نورو (ښاري او اطرافي) سیمو په څېر دی. په دې معنا چې په کابل ښار کې هم لکه د افغانستان د نورو سیمو په څېر، نارینه وو ته د ښځو په نسبت ډېر کاري فرصتونه چمتو دي. علت یې دا دی چې د کار بازار هم په پراخه توګه د ټولنیزو دودونو او نورمونو تر اغېز لاندې راغلی: د واک د وېش لړۍ په ورته بېلګه (دا اغیزې په ټولو برخو کې، په ورته انداز محسوسې دي). دغه ټولنیزه نا انډولي د کار بازار ته د داخلېدو او پکې

د برخه اخیستنې په ټولو بهیرونو کې ترسترګو کېږي. د بېلګې په توګه زموږ څېړنه، لاندینیو محدودیتونو ته اشاره کوي، چې دغه سکټور ته د ښځو د پراخې لاسرسۍ پر لاره کې د خنډ په توګه ګڼل کېږي. د هغو فرصتونو او زمینو په اړه د ښځو د پوهاوی کموالی، چې د عوایدو تر لاسه کولو ته لاسرسۍ ډاډمنوي.

- د هغو فرصتونو او انتخابونو په اړه د پوهاوي نشتوالی، چې د عوایدو د ترلاسه کېدو په برخه کې د دوی لپاره موجود دي
- د نارینه وو په پرتله د دوی د فزیکي مارکیټ (جسمي وړتیا ) د محاسبې په تړاو د کمۍ درک
- کله چې ښځې وغواړي چې د کار کولو له پاره له کوره بهر کار وکړي، نو په لومړي سر کې د خپلې کورنۍ او ټولنیز چاپېریال له مخالفت سره مخ کېږي
- پر یو ماهر ګنډونکي د بدلېدو لپاره د اړتیا وړ مهارتونو په ترلاسه کولو کې ستونزې. د کنډلو په برخه کې ښځېنه کارښودې (روزونکې) فکر کوي چې د خپلو نارینه وو همکارانو په پرتله، ضعیف مهارتونه لري، په دې توګه د دوی په شاګردانو کې هم دا احساس پیدا کېږي، چې تر خپلو ځوانو نارینه سیالانو، کمزورې وي
- د ښځینه کنډونکو لپاره د کار د یو بېل چاپېریال نشتوالي، ځکه همدا د ښځینه ګنډونکو د بیکاري یولوی علت دی چې دوی د کار له پاره بېل ځای نه لري او ډېرې کورنۍ دا نه خوښوي چې میرمني یې له نارینه وو سره یو ځای کار وکړي. دا ټول د دې لامل ګرځېدلي، چې میرمني له ګواښ سره مخ او تولید یې کم شي.

په پایله کې ویلی شو، چې کار ته د لاسرسۍ هغه لارې چارې، چې په مارکیټ کې د ښځو لپاره تنظیم شوې، د ښځو پر ژوندانه د یو نارسمي "ټکس" په توګه ګڼل کېدای شي. دغه ټکس د موجود وضعیت له ساتلو سره، د ښځو د اقتصادي بې واکه کېدو لامل ګرځي، چې دا پر خپل وار: د ځوانو ښځو پر هیلو او فکري افق یوه منفي کرښه راکاږي؛ د یو نا اشنا او پردي چاپېریال په توګه د کار مارکیټ ارایه کوي؛ او په مارکیټ کې د اقتصاد لړی ورو کېږي او ټولنیزه بیه لوړوي (د بېلګې په توګه: په ځینو کارګرانو کلونه کلونه له مزد پرته کار کېږي، وهل ، ټکول کېږي او په سپکه سترګه ورته ګوري. دې ټولو ته په یوې مرکې کې اشاره شوې ده. ) که ښځې په کار او اقتصاد کې برخه وانخلي، نو دا په خپله د مالي سرچینو د کموالي لامل ګرځي.

له بل لوري په افغانستان کې مالي سرچینې، اقتصادي فعالیتونه او کاروبار تر ډېره د نارینه وو په لاس کې دي چې دا په خپله د (نرواکی) سختو مقرراتو ته لا نوره لاره هواروي. په دې برخه کې په دې وروستیو کې د سیلویا چانټ (۲۰۱۳) له خوا کار شوی او په ټولیزه توګه یې د غیر رسمي کار د ځانګړنو په اړه د سویل په ټولو ښارونو کې د کاري چاپېریال، مهارتونو او د مالي تولید په برخه کې دغو محدودیتونو ته اشاره کړې ده.



خیاطی په ژوره توګه جنډري مسلک دی، خو د کار په مارکیټ کې له ځوانو ښځینه او نارینه وو سره بېل بېل چلند کېږي. ریچارد مالت/SLRC

## دغه څېړنه پالیسي جوړوونکو ته څه وړاندې کوي؟

زموږ شواهد د دې ښودونکي دي، چې د افغانستان د کار په بازار کې ټولنیزه ناانډولی په پراخه کچه هم موجوده ده او هم لا پیاوړی کېږي، پر دې بنسټ، هغه مرستندویان، چې په دغه هېواد کې د ځوانانو لپاره د ښه کاري فرصتونو د رامنځته کېدو په لټه کې دي، باید د همدې ایډیا له مخې او دې ته په پام سره، چې د کار موندلو او په کار کې د پاته کېدو په برخه کې، ښځینه او نارینه ځوانان له کومو توپیري محدودیتونو سره مخ دي، خپل پروګرامونه پلي کړي. د "مناسب او معقول کار " مفهوم یوازې دا نه دی، چې د بې خوندو او بې ګټو دندو په شمېر کې زیاتوالی راشي.

پر دې بنسټ، د پالیسي جوړولو کار او ماموریت باید یوازې د پایلو تدریس او زده کړه نه وي، بلکې د هغو ټولنیزو، اقتصادي او سازماني لاملونو کنټرول هم وي، چې د نا انډوله لاسرسیو او بېلابېلو محرومتیونو لامل ګرځېدلي دي (اچاوز او نور، ۲۰۱۴ : ۷ ). په واقعیت کې، د دغه راپور ارزونه، په کابل کې د کار زده کړې، کریډیټ (مالي پور) او تولیدي سرچینو ته، د کار ښځینه مارکیټ د لاسرسۍ پر لاره د جدي خنډونو موجودیت ښیي او د ښځو د تحرک په وړاندې د محدودیتونو یو روڼ انځور وړاندې کوي.

سربېره پر دې، که چېرې یوه ښځه پر دې بریالۍ کېږي، چې په نسبتا ښو شرایطو کې د یوې خپلواکې ګنډونکې په توګه، د خپلې دندې خوندیتوب تامین کړي، نو دا بریالیتوب، یو ښکاره او څرګند ټولنیز بنسټ او رېښه لري او تر ډېره داسې ښکاري، چې نوموړې په کورنۍ کې د کلیدي نارینه وو (په معمول ډول مېړه یا پلار) پیاوړی ملاتړ لري چې تر ډېره اړین ګڼل کېږي. له همدې امله ده، چې (زردوزي) د خپلې بودیجې یوه برخه، د ښځو د لاسته راوړنو ټولیزې لمانځغونډې ته بېله کړې ده؛ دغه جشن کېدای شي، هغه پوتانشیل له ځانه سره ولېږدوي، چې د ښځو د استخدام په وړاندې د نارینه وو په لیدلوري کې مثبت بدلون راولي. هغه څېړنې، چې په دې برخه کې په بنګله دیش کې، (۲۰۱۱: ۵۲۵)، ترسره شوې، پایلې یې دې ته ورته ټکي ته اشاره کوي: 'هغه مهم لیدلوري چې له تحلیلونو څخه ترلاسه کېږي، دا دي، چې نارینه، په دواړو برخو، هم د ښځو لپاره پرانېستو امکاناتو د محدودولو او هم د هغوی د امکاناتو د بشپړو پوتانشیلونو د تحقق په برخه کې ډېر مهم او اغېزمن رول لري.

زموږ د دې څېړنې له محتوا څخه په پراخه کچه دغه مسله څرګندېږي، چې ځوانې ښځې په رښیتنې ښه یو لړ اقتصادي ځواکمنتیاوو ته د رسېدنې په موخه، باید د ښاري خیاطۍ د کار په مارکیټ کې د دوو لارو، بشپړه خپلواکی (په بشپړه توګه په خپل سر د چارو ترسره کول) او تړلتیا (د ټولنیز او اقتصادي ژوندانه له نرواکی نظم څخه د اطاعت دوام) پر پوله ډېر په دقت سره ګام واخلي، یعنې د دغو دواړو په منځ کې، یوه لاره غوره کړي.

خو دلته هغه بنسټیز تناقض دا دی، په داسې حال کې، چې په افغانستان کې د ډېرو ښځو په منځ کې د یوې څرګندې اړتیا په توګه د تړلتیا اړیکې په خپل حال پاتې کېږي، په ورته وخت کې، هغوی په زیات احتمال سره، خپلواکې ته د رسېدو په لاره کې د تلپاتې محدودیت په ښه عمل کوي. په دې اړه فکر کول ضروري دي ، چې دغه ستونزه او بحران به څنګه حل شي، دا هغه کلیدي پوښتنه او موضوع ده، چې ډېر څېړونکي او پالیسي جوړونکي ورسره مخ دي.

# مأخذ


Chant, S. (2013) ‘Cities through a “gender lens”: a golden “urban age” for women in the global South?’. Environment and Urbanization 25(1):9-29.

Echavez, C., Babajanian, B., Hagen-Zanker, J., Akter, S. and Bagaporo,J. L. (2014) ‘How do labour programmes contribute to social inclusion in Afghanistan? Evidence from BRAC’s life skills education and livelihoods trainings for young women’. Report. London: Overseas Development Institute.

Kabeer, N. (2011) ‘Between Affiliation and Autonomy: Navigating Pathways of Women’s Empowerment and Gender Justice in Rural Bangladesh’. Development and Change 42 (2): 499- 528.

Kabeer, N. (2012) ‘Women’s Economic Empowerment and Inclusive Growth: Labour Markets and Enterprise Development’. SIS Working Paper 2012/1. IDRC.

Kabeer, N. (2012) ‘Women’s Economic Empowerment and Inclusive Growth: Labour Markets and Enterprise Development’. SIS Working Paper 2012/1. IDRC. Mallett, R. and Atim, T (2014) ‘Gender, youth and urban labour market participation: evidence from the catering sector in Lira, Northern Uganda’. Working paper 27. London: Secure Livelihoods Research Consortium.

Pitt-Rivers, J. (1977) The Fate of Shechem or the Politics of Sex:Essays in the Anthropology of the Mediterranean. Cambridge: Cambridge University



## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پر پالیسۍ او چارو مثبتې اغېزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه، د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې د ترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره د دوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړي کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. د غه بنسټ د مشرتابه یو بورډ لري چې د مرستندویو ادارو، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري.

په ۲۰۱۵ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC)، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA)، د نړیوال پرمختګ انسټیټیوټ (ODI)، نړیوال بانک، د امریکا د سولې انسټیټیوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې (GIZ-GOPA) Gmbh، د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه (SCA)، د ختیځ او افریقایي مطالعاتو لپاره د لندن پوهنتون (SOAS)، د امریکې د متحده ایالاتو د نړیوال پرمختیا سازمان (USAID) او د فیلینډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.